بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

(۵۱) گڼه وری ۱۴۰۴:شماره (۵۱) حمل:صفحه اول:لومړی مخ



# عودت راستنېدنه اونیزه هفته نامه

**مدیریت خوب مهاجرین برگشت کننده ، رسیدگی به مشکلات آنها و ادغام موثر آنها در جامعه از اولویت های ما است که نیازمند توجه جدی است**

## د افغانستان د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر، محترم مولوي عبدالکبیر د ایران د بهرنیو چارو وزارت له سلاکار محمد رضا بهرامي، په کابل کې د ایران له سفیر علي رضا بیگدلي او مل پلاوي سره وکتل.

په دې ناسته کې دواړو خواوو د دوه اړخیزو اړیکو، افغان کډوالو وضعیت او د بېرته راستنېدونکو افغان کډوالو د اسانتیاوو پر برابرولو بحث وکړ.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ څرګنده کړه چې افغانستان او ایران دوه دوست او ګاونډي هېوادونه دي، چې ډېر مشترکات لري. نوموړي د دواړو هېوادونو د اړیکو د لا پراختیا او پیاوړتیا پر اړتیا ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د ایران د لوړپوړو چارواکو تکراري سفرونه دا ښیي چې ایران د افغانستان سره مثبتې او دوستانه اړیکې غواړي.

هغه له افغان کډوالو سره د ایران د مرستو او کوربه توب ستاینه وکړه او ویې ویل، ایران او پاکستان له تېرو څو لسیزو راهیسې د افغان کډوالو کوربه پاتې شوي دي. نوموړي غوښتنه وکړه چې له افغان کډوالو سره په چلن کې له لا زیات زغم او نرمۍ کار واخلي.

محترم مولوي عبدالکبیر وویل، اسلامي امارت غواړي چې کوربه هېوادونه افغان کډوالو ته وخت ورکړي، څو هغوی په داوطلب ډول هېواد ته راستانه شي. د دې لپاره اسلامي امارت د ۴۶ ښارګوټو طرحه جوړه کړې چې په ځینو یې عملاً کار روان دی .

نوموړي وړاندیز وکړ چې د کډوالو چارو وزارت او د ایران اړوند چارواکي باید ګډې ناستې ولري، څو د افغان کډوالو د بېرته راستنېدو لپاره تفاهم ته ورسېږي. هغه وویل، اسلامي امارت د هغو افغان کډوالو لپاره چې په ایران کې د اقامې قانوني موده یې پای ته رسېدلې، د قانوني اسنادو د برابرولو لپاره یو میکانیزم چمتو کوي، تر څو هغوی ته د پاتې کېدو قانوني زمینه برابره شي.

په دې ناسته کې د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت سلاکار، محمد رضا بهرامي، تهران ته د سفر لپاره محترم مولوي عبدالکبیر ته بلنه ورکړه او ویې ویل، له سفر وړاندې که د کډوالو د بېرته راستنېدو د څرنګوالي په اړه یو ګډ تفاهم ته د رسېدو لپاره خپله طرحه له مخکې څخه شریکه شي دا به د کار له بهبود سره اساسي مرسته وکړي .

هغه له افغان کډوالو پر انساني چلند ټینګار وکړ او د اسلامي امارت له لوري د ۴۶ ښارګوټو د جوړولو اقدام وستایه، او دا یې د کډوالو د بېرته ستنېدو لپاره یو مهم پرمختګ وباله. محمد رضا بهرامي وویل، دا مهال په ایران کې ۸ میلیونه افغان کډوال ژوند کوي، چې له دې جملې څخه ۴ میلیونه یې قانوني اسناد نلري او یا یې قانوني موده پوره شوې ده.



## وزیر امور مهاجرین با وزیر صنعت و تجارت و شماری از مقامات دیگر ملاقات کرد



محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان با محترم نورالدین عزیزی وزیر صنعت و تجارت، انس حقانی مسوول ارتباط کمیسیون ارتباط با شخصیت های افغان و بازگشت آنان به کشور، احمد طه معین مسلکی وزارت سرحدات، اقوام و قبایل و مسوول لوا ولایت بغلان دیدار نمود.

در این دیدار وضعیت اقتصادی مهاجرین برگشت کننده، توسعه کسب و کار و امکانات بازاریابی آنها مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

وزیر مهاجرین در این ملاقات مشکلاتی را که مهاجرین برگشت کننده با آن مواجه هستند ذکر و بر همکاری مستمر با آنان تاکید کرد.

محترم نورالدین عزیزی وزیر صنعت وتجارت اطمینان داد که وزارت تجارت با مهاجرین بازگشته در مشاغل کوچک، آموزش حرفه ای و دسترسی به بازار همکاری خواهد کرد.

آقای عزیزی وعده سپرد که هماهنگی های متقابل را با وزارت مهاجرین و عودت کنندگان برای ثبات اقتصادی و ادغام مجدد اجتماعی برگشت کننده گان تقویت خواهد کرد.

حافظ انس حقانی گفت: کمیسیون ارتباط با شخصیت های افغان و بازگشت آنها به کشور در تلاش است تا علاوه بر روابط با کشورهای خارجی، با شخصیت های افغان نیز فضای اعتماد ایجاد کرده و شرایط مناسب را برای بازگشت آنها فراهم کند.

وی افزود: در این راستا همکاری ادارات ذیربط برای تحقق بهتر این اهداف مهم است.

وزیر امور مهاجرین از تلاش های وزارت صنعت و تجارت و کمیسیون عودت و ارتباط با شخصیت های افغان را ستوده و اطمینان داد که وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در راستای کارآمد و منظم تر شدن این روند با آنان همکاری خواهد کرد.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په مشرۍ د افغان کډوالو د نوې جوپـــــــې پیل ته د چمتووالي او اسانتیاوو برابرولو په موخه ناسته ترسره شوه.



په دې ناسته کې چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د معین سربېره څو تنو رئیسانو هم برخه لرله، په کور دننه له پاکستان څخه د افغان کډوالو د نوې لړۍ د ښه مدیریت، اسانتیاوو چمتو کولو، د ستونزو حل او له اړوندو نړیوالو او حکومتي بنسټونو او ادارو سره پر همغږۍ خبرې او پریکړې وشوې.

په ناسته کې د محترم مولوي عبدالکبیر لخوا د کډوالو د نوې جوپې لپاره چمتو شوی پلان وارزول شو او د نیمګړتیاوو حل په موخه مسوولینو ته د لازمو سپارښتنو تر څنګ د پلان په اغېزمن ډول د پلي کېدو یادونه وشوه.

محترم وزیر وویل، چې د کډوالو د ثبت پروسې کړنډې کولو په موخه دې د اړتیا وړ توکي، وسایل او مسلکي کسان پولو ته ولیږل شي او همدارنګه د اړتیا په صورت کې دې مسلکي او وړ کسان د کډوالو د ښه خدمت او مدیریت په موخه وګمارل شي.
د ناستې پر دوام یادونه وشوه چې د اسلامي امارت د زعیم له فرمان سره سم دې د کډوالو د ستونزو د حل په موخه د امارتي ادارو همکارۍ او مرستې راجلب کړل شي او د همغږۍ لپاره دې د کډوالو له عالي کمېسیون او د هغه له کمیټو سره ناستې دوامداره وشي.
د ناستې په پای کې پریکړه وشوه چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت یو پلاوی دې تورخم پولې ته ولیږل شي، څو د کډوالو اړتیاوې وارزوي او د ستونزو د حل په موخه له اړوندو ادارو سره په ګډه کار وکړي.
دغه راز په پای کې یادونه وشوه چې له نړیوالو اړوندو بنسټونو سره به د کډوالو ستونزو ته د رسیدنې او د مرستو کچې لوړلو لپاره ناستې وشي.

**وزیر امور مهاجرین: مدیریت خوب مهاجرین برگشت کننده ، رسیدگی به مشکلات آنها و ادغام موثر آنها در جامعه از اولویت های ما است که نیازمند توجه جدی است**



نکات فوق را محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان در نشستی هماهنگی که برای تسهیل و مدیریت بهتر مهاجرین برگشت کننده افغان به کشور، برگزارشده بود، ابراز نمود.
وزیر امور مهاجرین گفت: مدیریت خوب مهاجرین برگشت کننده، رسیدگی به مشکلات آنها و ادغام موثر آنها در جامعه از اولویت های ما است که نیازمند توجه جدی است.
وی افزود: تلاش می کنیم با همکاری همه ادارات ذیربط و سازمان های همکار گام های عملی، مشترک و هماهنگ برای رفع این مشکلات برداریم.
در این نشست در خصوص وضعیت خط فرضی تورخم، مرز سپین بولدک و سایر مناطق مرزی تمرکز شده شرکت کنندگان به تفصیل درباره نحوه ارائه سرپناه های موقت، خدمات بهداشتی اضطراری، ثبت نام و شناسایی و سایر خدمات اساسی و ضروری برای مهاجرین که به کشور باز می گردند بحث کردند.
همچنین در پایان این نشست، هیئتی به سرپرستی معین مالی واداری امور مهاجرین و عودت کنندگان موظف شد تا از کمپ مهاجرین تورخم بازدید و گزارش خود را از امکانات و نیازهای موجود با این وزارت در میان بگذارند.

**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په جلا جلا ناستو کې د افغانستان لپاره د سره صلیب او سره میاشت ټولنې نړیوال فدراسیون له مسوول احمد سلیمان او په افغانستان کې د کډوالو نړیوال سازمان له مشرې میاپارک سره وکتل.**



په دغو ناستو کې چې له پاکستان څخه د افغان کډوالو په جبري ډول د ایستلو په هکله خبرې وشوې، په پیل کې د افغانستان لپاره د سره صلیب او سرو میاشت ټولنې نړیوال فدراسیون مشر احمد سلیمان وویل، چې د اړوندو افغان ادارو له لارې یې د افغانستان په پولو کې د کډوالو لپاره د روغتیا، خوراکي توکو، څښاک اوبو ، خیمو او په ځینو نورو برخو کې مرستې پیل کړې او هڅه کوي چې د بیړنیو مرستو لړۍ پراخه کړي.
د ښاغلي سلیمان په وینا چې افغان کډوالو ته به، په دویمه او دریمه مرحله کې د میلیونو ډالرو په ارزښت مرستې وکړي او د اغېزمنې همکارۍ په موخه له ټولو حکومتي ادارو سره په اړیکه کې دي.
همدارنګه په افغانستان کې د کډوالو نړیوال سازمان مشرې میاپارک د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له همکاریو په مننې وویل، چې یاد سازمان د افغانستان په څلورو بندرونو کې له افغان کډوالو سره مرسته کوي او په راتلونکې کې یې هم اړمنو ته د مرستو د رسولو ډاډ څرګند کړ.
ښاغلې میاپارک زیاته کړه، چې د مالي سرچینو د کمښت ستونزې پر حل لګیا دي، خو بیا هم توانیدلي چې په تېرو دریو میاشتو کې ۳.۲ میلیونه امریکایي ډالر پر افغان کډوالو وویشي.
نوموړې څرګنده کړه، چې د افغان کډوالو لپاره د مناسب ژوند چمتو کولو لپاره هم کار کوي. اغلې پارک دغه راز زیاته کړه، چې په افغانستان کې د ثبات او امنیت د ټېنګښت له امله په اروپایي او امریکایي هېوادونو کې میشت یو شمېر افغانان غواړي خپل هېواد ته په خپله خوښه راستانه شي او د کډوالو نړیوال سازمان به یاده پروسه له اسلامي امارت سره په همغږۍ پیل کړي.
محترم مولوي عبدالکبیر په یادو ناستو کې راغلو پلاو ته ښه راغلاست وویل او له افغانانو سره په بیلابیلو برخو کې یې د هغوی له مرستو او همکاریو مننه وکړه.
محترم وزیر په ګاونډیو هېوادونو کې له افغانانو سره ناسم چلند ته په اشارې سره وویل، چې په دایمي ډول د افغان کډوالۍ ستونزې حل وخت او د نړیوالو مرستو ته اړتیا لري.
د محترم وزیر په وینا چې اسلامي امارت په جبري ډول له پاکستان څخه د افغان کډوالو نوې چوپې ته اړینه تابیا نیولې ده او د تېر په څیر به دغه لړۍ هم په ښه ډول مدیریت شي.
د ناستو پر دوام ښاغلي وزیر د مرستندویه بنسټونو لخوا له افغان کډوالو سره د مرستو د کچې د ډېریدو غوښتنه وکړه او وې ویل، چې نړیوال بنسټونه دې د افغان کډوالو د ښارګوټو په ودانولو کې ونډه واخلي.
په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر همدارنګه له نړیوالو غوښتنه وکړه، چې د افغان کډوالو پر وړاندې د ناسم چلند په مخنیوی کې دې هڅې وکړي.

**د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر له پاکستان څخه په جبري ډول د افغان کډوالو د ایستلو نوې جوپې په هکله په پېښور کې د اسلامي امارت له قنسل حافظ محب الله سره وکتل.**



په لیدنه کې چې د مهاجرینو پر ایستلو او ستونزو خبرې وشوې، ښاغلي حافظ محب الله له پاکستان څخه د مهاجرینو د ایستلو لړۍ خورا نامناسبه او دردونکې وبلله.
نوموړي له پولې هغې خوا ته د مهاجرینو د ستونزو او د هغوی د پانګو ضایع کېدو په هکله محترم وزیر ته جزییات ورکړل او په وینا یې چې مهاجرین د ایستلو په لړ کې تر پولې پورې ستونزې ګالي.
د ناستې پر دوام ښاغلي محب الله د کډوالو د ستونزو حل په موخه یو شمېر وړاندیزونه له محترم مولوي عبدالکبیر سره شریک کړل.
محترم وزیر له افغان مهاجرینو سره ناسم چلند له ټولو اسلامي او نړیوالو اصولو سره په ټکر کې یاد کړ .
محترم مولوي عبدالکبیر وویل، چې افغانان د دین او اسلامي خاورې ساتلو لپاره مهاجرت ته اړ شوي، خو د افغان کډوالو پر وړاندې د اسلامي هېوادونو ظالمانه کړنې دردونکې او د اندېښنې وړ دي.
نوموړي زیاته کړه چې اسلامي امارت د کډوالو د ستونزو حل ته کافي امکانات ځانګړي کړي او ډېرو امارتي ادارو په ګډه د مهاجرینو خدمت ته ورداګلي دي.
د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر د ایران له جمهوري دولت سره د کډوالو په برخه کې د پرمختګونو یادونه وکړه او افغان مهاجرینو ته یې د مرستو پر جلب ټېنګار وکړ.

**د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر په افغانستان کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ له رئیس سره ولیدل**



په افغانستان کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ رئیس ښاغلي عرفات جمال د کډوالو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر سره ولیدل .
په دې ناسته کې د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو پر حل، له پاکستان او ایران سره د درې اړخیزو ناستو، د کډوالۍ پر دایمي حلالرو او اسانتیاوو په چمتو کېدو

خبرې وشوې.

ښاغلي عرفات جمال د مهاجرينو چارو وزارت له همغږۍ او همکارۍ مننه وکړه او ښاغلي وزير ته يې د خپلو فعاليتونو او قطر ته د خپل وروستي سفر په اړه معلومات وړاندې کړل.

نوموړي وويل، له قطري چارواکو سره يې د افغانستان، پاکستان او يونيسيار د درې اړخيزې ناستې په هکله خبرې کړې او تمه يې وښوده چې په راتلونکې مياشت کې به ترسره شي.

د مهاجرينو چارو وزير له راستنېدونکو کډوالو سره د يونيسيار مرستې اغيزمنې وبللې او زياته يې کړه، په اضطراري حالاتو کې د مرستو ترلاسه کولو لپاره، يې او آر او وي آر ايف کارتونه بايد معيار ونه ګرځول شي بلکې له ټولو راستنېدونکو سره دې مرستې وشي.

ښاغلي وزير ټينګار وکړ، چې د دايمې حللارو لپاره د ښارګوټو ابادول ضروري دي او په دې برخه کې بايد نړيوال سازمانونه مرستې وکړي.

## د کډوالو وزير د نورستان له والي سره د راستنېدونکو کډوالو پر وضعيت خبرې وکړې



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د نورستان له والي قاري زين‌العابدين عابد سره کتنه وکړه.

په دې ناسته کې دواړو لورو راستنېدونکو افغان کډوالو د وضعيت، اړتياوو او ستونزو په اړه مفصلې خبرې وکړې.

د نورستان والي قاري زين‌العابدين وويل، د خپل ولايت له لوري به له راستنېدونکو کډوالو سره د لا همغږۍ او مؤثرې همکارۍ هڅې زياتې شي، او ډاډ يې ورکړ چې د يادو کورنيو د ستونزو د حل لپاره به له اړوندو ادارو سره په همغږۍ اغېزمن پلانونه جوړ شي.

محترم مولوي عبدالکبير د نورستان والي هڅې وستايلې او څرګنده يې کړه چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت له راستنېدونکو کډوالو سره د خدمتونو د ښه‌والي او د هغوی د ستونزو د هوارولو په موخه لازم اقدامات پيل کړي او دغه بهير به په راتلونکې کې لا پراخ شي.

## معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین در سفرش به ولایت ننگرهار از خط فرضی و کمپ موقت دیدن بعمل آورد



شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در راس هیأتی به ولایت ننگرهار سفرنموده و بعد از ملاقات با مولوی عزیزالله مصطفی معاون والی ولایت ننگرهار، از خط فرضی و کمپ عمری در آن ولایت نیز دیدن بعمل آوردند.

معین مالی و اداری وزارت با هیأت همراهش مشکلات را از نزدیک مشاهده نموده و به مسوولین در جهت ارائه خدمات لازم برای برگشت کننده گان اجباری از کشور پاکستان هدایات لازم را بیان داشت.

## د کډوالو چارو وزارت کې څه د پاسه ۲ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د همکاریو څلور تفاهم لیکونه لاسلیک شول.



۲ ميليونه، ۵۵۰ زره او ۲۷۰ امريکايي ډالرو په ارزښت د همکاريو څلور تفاهم ليکونه د کډوالو چارو وزارت له لوري د نارويې د مهاجرينو د ملاتړ ادارې، د کليو د بيارغونې او پراختيا پروګرام، او د چاپېريال ساتنې تعليم او پراختيا موسسې سره لاسليک شول.

د يادو تفاهم ليکونو له مخې، يادې ادارې به دغه مرستې د خوړو توکو وېش، د کورونو کرايې نغدي ورکړه، د سرپناوو جزوي او بشپړه بيارغونه، حرفوي زده‌کړو او عامه پوهاوي په برخو کې مصرفوي.

دا مرستې به د بې‌ځايه شوو، راستنو شوو او کوربه ټولنو ٦٦٦٠ کورنيو ته په ننګرهار، کابل، کندهار، کندز، هرات، بادغيس، کونړ، بلخ او سرپل ولايتونو کې ورکړل شي.

ياد تفاهم‌ليکونه د کډوالو چارو وزارت مسلکي معين الحاج مولوي عبدالرحمن راشد او د يادو موسسو د استازو ترمنځ لاسليک شول.

## نشست اضطراری برای حمایت از خانواده های برگشت کننده در ولایت ننگرهار برگزار شد



نشست اضطراری برای حمایت از خانواده های برگشت کننده از کشور پاکستان، بر ریاست معاون والی ولایت ننگرهار با حضور نماینده های موسسات ملی و بین المللی برگزارشد .

نشست مذکور بر موضوع بازگشت آبرومندانه، حمایت و اسکان خانواده های افغان که از پاکستان بازگشته اند تمرکز داشت.

مولوی عزیزالله مصطفی معاون والی ننگرهار از وضعیت برگشت کننده گان از پاکستان در تورخم به شاملین معلومات ارایه نموده و بر حل موضوع با تشریک مساعی از طریق دیپلوماتیک و نقش موثر سازمان ملل تاکید نمود .

وی از نهادهای امداد رسان خواست تا با توجه به نیازهای برگشت کننده گان، مسیر انعطاف، تعهد و کمک عملی را در پیش گیرند.

رییس مهاجرین ننگرهاردر خصوص ثبت نام و خدمات اولیه معلومات داده و خواستار اقدامات بیشتر در صورت افزایش احتمالی شد.

به همین ترتیب مسوولان نظامی، نماینده های ریاست های اقتصاد، صحت عامه، ادارات سکتوری و موسسات ملی و بین المللی از همکاری شان در هماهنگی با رهبری اداره ولایتی ابراز داشتند.

## په پکتيا ولايت کې يو روغتيايي مرکز ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

پکتيا ولايت کرديز ښار مهاجرينو ښارګوټي کې يو روغتيايي مرکز د لوړپوړو چارواکو په حضور کې له جوړېدو وروسته ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

په دې مناسبت جوړ شوو مراسمو کې د عامې روغتيا وزير مولوي نورجلال جلالي، د پکتيا ولايت مرستيال شيخ انعام الله، د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کميشنرۍ مشر عرفات جمال او د ولايت د بېلابېلو ادارو رئيسانو ګډون کړی ؤ .

د پکتيا د عامې روغتيا رئيس په دې مراسمو کې وويل :

دا مرکز د ۳،۵۰۰ متره مربع ځمکې په مساحت کې جوړ شوی، چې ۳۴ خونې او ۳۰ بستره لري او د بېلابېلو برخو لپاره برابر شوی دی.

دا پروژه د مهاجرينو رياست او د عامې روغتيا وزارت

په همغږۍ، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ په مالي مرسته، د ۳۷۵،۸۷۳ امریکایي ډالرو په ارزښت جوړ شوی دی.

د نوموړي په وینا، د دغه مرکز ګټې اخیستنه به د خلکو ډېرې روغتیایي ستونزې حل کړي او ګټې آسانتیاوې به رامنځته کړي.

د ولایت مرستیال والي هم په خپله وینا کې د یاد روغتیایي مرکز جوړول د پکتیا د خلکو لپاره یو مهم روغتیایي ګام وباله.

نوموړي له عامې روغتیا وزارت، د مهاجرینو وزارت، او د ملګرو ملتونو د کډوالو دفتر څخه مننه وکړه چې دا مرکز یې د پکتیا خلکو، په ځانګړي ډول مهاجرینو لپاره د روغتیایي آسانتیاوو د برابرولو په موخه جوړ کړی دی.

د عامې روغتیا وزیر مولوي نورجلال جلالي وویل: وزارت په پام کې لري چې د هېواد په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د مختلفو ناروغیو د درملنې لپاره روغتیایي مرکزونه جوړ کړي، څو خلکو ته غوره روغتیایي خدمتونه وړاندې شي او له هېواده بهر ته د تګ اړتیا کمه شي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمیشنرۍ رئیس، عرفات جمال له ګډونوالو سره د یاد مرکز د کار طریقه، شته امکانات، جوړښت او راتلونکې کاري برنامې شریکې کړې. نوموړي ډاډ ورکړ چې نورې اساسي پروژې به هم د اړوندو ادارو په همکارۍ د افغانانو لپاره عملي کړي.

د پکتیا د مهاجرینو رئیس د یاد روغتیایي مرکز د جوړېدو په برخه کې د ملګرو ملتونو د کمیشنرۍ له همکارۍ مننه وکړه او ویې ویل: مسؤلین هڅه کوي چې مهاجرین بېرته خپل هېواد ته په سلامتۍ او عزت ستانه شي او ورته د هېواد په بېلابېلو برخو کې امکانات برابر شي.

## رئیس امور مهاجرین ولایت ننگرهار برای ارزیابی وضعیت مهاجرین به تورخم سفر کرد



حاجی بازمحمد عبدالرحمن رئیس امور مهاجرین وعودت کننده گان ولایت ننگرهار، برای ارزیابی آخرین وضعیت مهاجرین برگشت کننده به تورخم سفر کرد.

وی در این سفر از کمپ مهاجرین در تورخم و دفاتر سازمان های امداد رسان ملی و بین المللی بازدید کرد.

ریس مهاجرین به توجه ویژه کارمندان برای برگشت کننده گان تاکید داشته و هدایات لازم را برای جلوگیری از تاخیر و موانع در کار ارائه نمود.

وی همچنین افزود که تمامی برگشت کننده گان از تمامی امکانات لازم برخوردار خواهند شد و پس از دریافت کمک به مناطق شان منتقل خواهند شد.

## په کندز ولایت کې د بیا میشتیدنې کمیټې غونډه وکړه

د کندوز ولایت د راستنېدونکو او بې ځایه شویو د بیا میشتیدنې کمیټې د ولایت مقام د کارکوونکو د رییس په مشرۍ او د سکتوري ادارو او موسساتو د استازو په ګډون د راستنېدونکو او بې ځایه شویو د ستونزو او اړتیاوو د حل لپاره غونډه ووکړه.

د کندوز ولایت د کډوالو رییس مولوي عبدالولي محمدي د راستنېدونکو د ثبت شویو شمېرو او د تیر کال د شویو مرستو په اړه معلومات ورکړل.

نوموړي له ګډونوالو وغوښتل، چې د جبري راستنېدونکو د اساسي اړتیاوو ته په بیړني ډول باید بشپړ چمتووالی ولري.

د اړوند ادارو او موسساتو استازو د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ او د مرستو په روڼتیا ټینګار وشو.

## نشست اضطراری برای ارائه خدمات اولیه به خانواده های تازه برگشت کننده در ولایت لغمان برگزار شد



نشست اضطراری بریاست والی ولایت لغمان با حضور نماینده های ادارات محلی آن ولایت به منظور ارائه خدمات اولیه به خانواده های تازه برگشت کننده اجباری کشور پاکستان، برگزار شد.

شیخ شیر احمد حقانی والی لغمان گفت: ما این نشست را برای خانواده هایی که اخیراً به اجبار از پاکستان اخراج شده اند ترتیب دادیم تا فرصت اسکان فوری برای آنها فراهم شود.

وی همچنان توصیه کرد که مسئولان ادارات مربوطه تمام مشکلات مهاجرین را در نظر گرفته و به موقع به آن رسیدگی کنند.

مولوی غلام رحمان بلال، رییس امور مهاجرین به رهبری ولایت اطمینان داد که آماده همکاری با خانواده های برگشت کننده هستند و از تمام امکانات موجود برای خدمت به آنان استفاده خواهند کرد.

مسئولان ادارات از همکاری در تامین امنیت، سرپناه، خدمات بهداشتی، امدادرسانی اضطراری، خیمه و سایر بخش ها اطمینان دادند.

در پایان این نشست، یک کمیته شش نفره تحت ریاست رییس مهاجرین تشکیل شد تا خدمات بهتری به خانواده های برگشت کننده ارائه کرده و به مشکلات مهاجرین رسیدگی شود.

## بلخ ولایت کې د مرستو راټولولو او جبري راستنېدونکو مهاجرینو د راتګ لپاره د چمتووالي ناسته دایره شوه

د بلخ ولایت مرستیال والي په مشرۍ ګاونډیو هېوادونو څخه د جبري راستنېدونکو کډوالو د ثبت، مرستو د راټولولو او د چمتووالي په موخه، ناسته وشوه. د ناستې موخه د جبري راستنېدونکو لپاره د چمتووالي، سرپناوو جوړولو او مرستو برابرولو اړوند نظرونه شریکول وو.

په دې ناسته کې ګډونوالو د جبري راستنېدونکو لپاره د بشپړ چمتووالي، د مرستو د راټولولو، د سرپناوو جوړولو او د نورو همکاریو د څرنګوالي په اړه نظرونه شریک شول .

د بلخ مرستیال والي مولوي نورالهادي ابوادریس د تېر کال د کمیټې هڅې وستایلې او سږ کال یې د لا زیاتې همکارۍ ژمنه وکړه.

مولوي نورالهادي وویل: تاکل شوې کمیټه به سږ کال هم راستنېدونکو مهاجرینو لپاره پوره چمتو وي او هڅه به کوي، چې له ټولو مهاجرینو سره د وروروولۍ چلند وشي، څو دوی د بې برخېتوب احساس ونه کړي.

نوموړي زیاته کړه، چې د ژوند د اسانتیاوو ترڅنګ به دندې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې هم برابرېږي. هغه ټینګار وکړ، چې سږ کال باید له ټولو محلي ادارو سره په ګډه له ځنډ پرته هڅې وشي؛ تر څو راستنېدونکي مهاجرین وکولای شي په خپل هېواد کې آرام ژوند ولري.

همدارانز د یادې کمیټې غړو وویل، چې سږ کال به له پخوا زیاتې تجربې او ښې همغږۍ سره هڅه وکړي، څو راستنېدونکي مهاجرین له کومې ستونزې سره نه بلکې له آرامۍ سره ژوند وکړي.